ډاکتر عبدالرحمن زماني ۲۰۱۳/۰۶/۰۹

# په آزاد سرحد کې د مومندو مبارزې

(اومه برخه)

## د سيمې د اداري د پاره د انګريزانو هلې ځلې

د آزادو قبايلي سيمو کنټرول په آسيا کې د انګريزانو د باندني سياست ستر بنسټيز اصل جوړولو. د دې کار د پاره په قبايلي سيمو کې د تهانو او عسکري ځوکيو جوړول او د سړکونو، پلونو او اورګاډو د پټليو دغځولو له لارې ددوې نښلول، او د محلي اخ اوډب او جګړو د مخنيوي دپاره د ښه نظامي طاقت موجوديت ضروري وو(۱).

انګريزانو د سرحد د سيمې د کنټرول او خلکو د مقاومت دماتولو دپاره د مختلفونورو وسيلو نه هم استفاده کړيده. په دې کې تر ټولو مهم او مرکزي رول دانګريزانو هغو ځو تنو مامورينو لوباوه چې د شمال مغربي سرحد د اداري د پاره غوره شوي وو. "لوويل" A. L. Lowell د «انګلستان د حکومت» په نامه خپل مشهور کتاب (۲) کې ليکي چې « دهند حکومت په حقيقت کې د يوولس سوه (۱۱۰۰) شاوخواکې انګريزانو په لاس کې دئ چې ځو تنه يې فوځي (نظامي) او پاتې يې مُلکي مامورين دي ». د دې ګڼ شمير کسان د کورنيو ارتباطاتو له امله په خپله خوښه تللي دي. ځوې به دپلار لار ه نيوله او په هماغه "کندک" کې به يې د خپل تره (کاکا) او د تره د ځوې سره ښنګ تر ښنګ خدمت کاوه. د دوې د خدمت دوره اوږده او تنخواه ښه وه. د دوې د سفر بيرې به په مياشتو کې هندوستان ته رسيده او دوی به هلته د اوږدې مودې دپاره اوسيدل. ددې کار ګټه داوه چې دوی به زياته تجربه پيدا کوله، او د خلکو، د هغوی ژبې او ژوند دلارو چارو او کلتور سره به آشنا کيدل. دوی به د سيمې سره ښه بلد او د اقليم او آب و هوا سره هم آشنا وو. په شمال مغربي سرحدي سيمه کې غوره شوي مامورين به د "آکسفورډ" يا "کامبريج" هغه شاګردان وو چې په هندوستان کې د خدمت دپاره به يې د خپلې زده کړې په وروستي کال کې د "هند د مُلکي خدمت" (India Civil Service) آزموينه تيروله او که به بريالي شول نو يو بل کال به يې په هغه پوهنتون کې د هندوستان قانون او مقررات، د هند تاريخ او د مربوطه ايالت ژبه زده کوله. دوی به هند ته درسيدو نه وروسته هم خپلې سختې زده کړې ته دوام ورکاوه او د کمشنر د مرستيال تر لاس لاندې به وو(۳).

انګريزانو کوښښ کړې چې د برېتانوي مامورينو او وسله والو قواوو په ښنګ کې د تشويق او چل ول نه هم د دغې سيمې په کنټرول کې کار واخلي. د " زر او زور د پښتون په پوله " د کتاب ليکوال عبدالقيوم خان د پښتنو قبايلو په سيمه کې د انګريزانو د پاليسي په هکله ليکي(٤)، (٥)چې " تاسو که يې په هر نوم يادوئ – د بندې پولې پاليسي (دتړلو سرحدونو سياست)، د ګذار کولو او تېنتيدو پاليسي، د شاهانه آرام طلبی پاليسي، يا دامن سره دورننوتو پاليسي، پدې ټولو کې يوه خبره مشترکه وه او هغه ددې مقصد و. هغه مقصدچې په مؤثره توګه د قبايلو مغلوبول او خنثی کول وو او د نورو نورو سيمو لاندې کول. د دغه مقصد د حاصلولو دپاره هره طريقه استعمال شويده. د سياسي ځانګې د مخصوصو مامورينو (افسرانو) يوې ډلې ته يې دقبايلو د چارو مسؤوليت ورکړې وه چې اسسټنټ پوليټيکل ايجنټانو، سياسي تحصيلدارانو او نائيب تحصيلدارانو به ورسره مرسته کوله. د دې افسرانو ترشابه خاصه دار، سکاوټان او نورې قبايلي مليشې وې او ورسره به دبرېتانوي هندد فوځ يوه لويه برخه هم وه. دجګړې د پيل کيدو نه مخکې د فوځ لويه برخه د صوبه سرحد د نظامي لښکرکوټونو په ښارګوټو کې چې چهاونی (Cantonment) به يې ورته ويلې او د پنډی نه تر لنډي کوتله خورې وې، او په حقيقت کې د افغانستان سرحد سره له ګلګټه رانيولې په جنوب کې دبلوچستان تر کوئټې پورې، ځاې پر ځاې شوې وو".

د سياسي مامورينو (پوليټيکل ايجنټانو) په واک کې زياته اندازه پيسې اچول شوې وې تر څو قبايلو ته د بډو، رشوت او بې ايمانيو تهذيب ورزده کړي. پردغه جنګياليو قبايلو دبرې موندلو او ددوی د کمزوري کولو د پاره په پراخه اندازه د زر او زور نه کار اخيستل شويدي(٦).


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

سياسي نمايندګانو به يا خپله د قبايلو له منځه  او يا هم د ايالتي استخدام شوو مخبرانو له لارې خپلې چارې پرمخ بوتلې.  د دې مخبرانو کار داوو چې د قبايلي سيمو د پيښو او حالاتو نه چاروګي خبر کړي.

د انګريزانو د اداري يوه ښه آله هم په  سيمه کې د خانانو او په قبايلي سيمو کې د ملکانو نه استفاده وه.  دوې به په ولسواليو کې د کميشنر د مرستيال (Deputy Commissioner) او په ايجنسيو کې د سياسي نمايندګانو (Political Agents) سره د خلکو د ارتباط په ټينګولو کې زيار ويسته. انګريزانو، خانانو ته د خان بهادر، نواب  او زړورتوب د رتبو او ځمکو او جايدادونو په ورکولو او حتی ددوې اولادونو او خپلوانو ته د مهمو دندو په ورکولو سره د دوې حمايت ترلاسه کاوه.

ډاکټر محمد انور خان د The Role of N.W.F.P. in the Fredom Struggle يا د آزادی په مبارزې کې د شمال مغربي صوبه سرحد د رول په نامه د خپل کتاب په لومړی ضميمي کې د ځلور پنځوسو (٥٤) خانانو او اربابانو يو لست ليکلې چې انګريزانو ورته د نشت په بيه جايدادونه ورکړيدي.

دوې ملکانوته د تنخواه، منظوريو (الاونسونو) او امتيازاتو په ورکولو سره هڅه کوله تر څو دوې خپل خلک د انګريزانو سره د جګړې څخه منع کړي. د مواجبو او الاونسونو ورکول به ډير ځله د قبيلو د اقتصادي محاصرې او فشار سره يو ځاې د يوې وسلې په ډول استعماليده او د هغې په وسيله به د انګريزانو د ملګرو ملکانو د نفوذ د ساحې زياتيدو سره مرسته کيده. د دا ډول ملکانو په مسؤوليتونو کې په خپله سيمه کې د سړکونو ساتنه، د سرحد ساتنه، د لارو او کوتلونو خلاص ساتل، د حملو مخنيوې، د خپلو سرحدونو نه د فراريانو (مفرورانو) ويستل شامل وو.

د انګريزانو دا کار  لکه د دوې د جاسوسی د سيستم په شان د مغلو پاچاهانو سيستم  ته ورته وو، او انګريزانو  له پيله دهغې نه کار آخيست.  د دې درې ډولونه وو:

لومړې: لونګی به افرادو او  عموما ملکانو ته په منظمه توګه په مياشت کې يو ځل، او يا هم په کال کې يو يا دوه ځله ورکول کيده.  که څه هم  د لونګی د پيسو اندازه به په مياشت کې څو سوه روپيو ته رسيده  خو د لونګی اهميت د پيسو په  اندازې کې نه بلکه پدې کې وو چې هغه د واکدارانو له خوا د مشرانو په حيث د افرادو په رسميت پيژندل ګڼل کيده او د عزت نښه وه .

دوهم: مواجب، منظوری يا الاونس به يوې قبيلي يا خيل ته په ګډه ورکول کيده. دابه عموما ديوی جرګي په مخ کې  د هغې قبيلي يا خيل نماينده ملک ته ورکول کيده.

دريم: خرچه يا د مصارفو د پيسو ورکول به سياسي نمايندګانو ته  د يوه خاص کار د سرته رسولو په بدل کې وو، د مثال په ډول  که به په يوې سيمې کې د انګريزانو په خلاف د افغانستان د خاوری نه د راغلو جنګياليو د مخنيوي د پاره کوم ملک لښکر راټول کړ، نو د هغې مصارف يا خرچه به انګريزانو ورکوله. (Spain, James W. (1963 ، ١٥٨ مخ  د قبايلو د خپل منځې اختلافاتو او ګونديو- دبنمنيو نه استفاده هم  د بريتانوي هندمامورينو ته د دوې په چارو کې د مداخلې او لاسوهنې ښه زمينه برابروله.  د مثال په توګه د لړو (کوزو) مومندو يوه برخه د ډېمنه يا باوري (٧) قبيلو په نامه اعلام شوې(٨)، او کله چې به د برو او لرو مومندو ترمنځ شخړه پيښيده نو انګريزانو به ددوې په پلويتوب نظامي مداخله کوله. ډېمني يا assured قبيلي د کوزو مومندو د ترکزيو، حليمزيو، اتمانزيو د ويزيو او مندې خيلو هغو ځانګو ته ويل کيږي چې په ١٨٩٤ کال کې يې د انګريزي حکومت اداره ومنله او انګريزانو ورته ډاډ ورکړ چې دوې به ورته هماغه مرسته او حمايت ورکوي، کوم چې به يې د افغانستان د امير نه ترلاسه کول.

## په افغانستان او د هند په نيمه وچه کې د انګريزانو د سيسي او جاسوسان

جاسوسي په نړۍ کې تر فحشا وروسته دوهم پخواني مسلک ګڼل کيږي. که څه هم د ننيو معاصرو هيوادونو د ملي امنيت د تامين د پاره استخباراتي خدمات زيات اهميت لري. خو د انګريزانو استخباراتي فعاليتونه د پنځلسمي (١٥) پيړۍ راهيسي روان دي. په اروپا کې د دوې جاسوسي فعاليتونه د اتم هنري په وخت کې ادامه درلوده.  اتم هِنری (١٤٩١ - ١٥٤٧) د انګلستان د پاچا اووم هنري دوهم زوې وو چې په ١٥٠٩ م کال کې د پلار دمرګ نه وروسته پاچا شو. هغه د کاترين آراګن د طلاق او يوې داسي ښځې د موندلو په سر چې يو وليعهد ورته وزيږوي د اوم پاپ او د روم د کاتوليکي کليسا سره مخالف شو. د دې مخالفت په نتيجه کې هنري په انګلستان کې د پاپ مذهبي واکمنې ختمه، د انګلستان کليسا مستقله او ځان يي د هغې دمشر په توګه معرفي کړ. هنری يوپوه، اديب، ژبپوه، او په موسيقۍ هم پوهيده. خو د هغه د شهرت علت په پرلپسي توګه ښيږ  ودونه او د خپلو دوو ښځواعدامول وو.

---

د پانو شميره: له ٢ تر ٥

د لومړۍ ملکې الیزابت په وخت کې د پنځوسو (۵۰) انګریزي جاسوسانو یوې شبکې فعالیت درلود. اتم هِنری (۱۴۹۱ - ۱۵۴۷) د انګلستان د پاچا اووم هنري دوهم زوی وو چې په ۱۵۰۹ م کال کې د پلار د مرګ نه وروسته پاچا شو. هغه د کاترین آراګن د طلاق او یوې داسې ښځې د موندلو په سر چې یو ولیعهد ورته وزیږوي د اوم پاپ او د روم د کاتولیکي کلیسا سره مخالف شو. د دې مخالفت په نتیجه کې هنري په انګلستان کې د پاپ مذهبي واکمني ختمه، د انګلستان کلیسا مستقله او ځان یې دهغې د مشر په توګه معرفي کړ. هنری یوپوه، ادیب، ژبپوه، او په موسیقۍ هم پوهیده. خو د هغه د شهرت علت په پرلپسې توګه ښځې ودونه او دخپلو دوو ښځواعدامول وو. ( دایرة المعارف یا آزاده ویکی‌پدیا; او انګلیسي بریتانیکا دایرة المعارف)

د اووم هنری زوی، اتم هنری دري اولادونه درلودل چې یو پربل پسي سلطنت ته ورسیدل. د هغه دریم اولاد ملکه الیزابت وه چې په ۱۵۳۳ م کال کې زیږیدلي وه. کله چې ملکه الیزابت د سلطنت پر تخت کښیناسته نو د مذهبي لانجو د مخنیوي د پاره یې د انګلستان د مذهب بنسټ د کاتولیک مذهب پر تشریفاتو کیښود، خو د کاتولیک د مذهب ځینو پیروانو هغه ونه منله او د سکاتلند ملکې، ماری استوارت، ته یې پناه وروړه کومې چې د ملکې الیزابت سره کورنۍ خپلولي هم درلوده. د دې پیښې په نتیجه کې د دواړو مَلِکُو ترمنځ دښمني پیداشوه تر څو چې ملکې الیزابت، ماری استوارت بندي کړه او ۱۹ کاله وروسته یې په ۱۵۸۷ م کال د لندن په زندان کې سر تري غوڅ کړ. لومړۍ ملکه الیزابت په ۱۶۰۲ م کال کې مړه شوه.

د لومړۍ ملکې الیزابت له درباره نیولي تر اوسه انګریزانو کوښښ کړی چې هم د دوستانو او هم د دښمنانو په هکله د بریتانوي دیپلوماسی په ګټه مؤثق معلومات ترلاسه کړي. د دوی استخباراتو دامریکي نه نیولي تر هسپانیې، جرمني، فرانسې، روسیې، چین، منځنې ختیځ، مرکزي آسیا او افریقائي هیوادونو په ګډون تقریبا ټولو هیوادونو کې د خپلې جاسوسی جالونه خپاره کړیدي (۹).

## د استخباراتي اداري انکشاف

انګریزانو په ۱۷ مه پیړۍ کې د یوې پټې اداري لخوا د مشکوکو خطونو لټول پیل کړل. په ۱۸ مه پیړۍ کې یې د رمزونو (شفرونو) د کشف او ترجمې ځانګه تاسیس کړه تر څو د خارجي طاقتونو مخابرات کشف کړي. کله چې د ۱۹۰۷ او ۱۹۱۷ کلونو تر منځ بریتانوي راج یا په هندوستان کې د انګریزانو واکمني د سخت ګواښ سره مخامخ شوه، نو په نتیجه کې یې هم په سیمه او هم په نړیواله کچه استخباراتي عملیات ډیر پراخه شول. په رسمي توګه د انګلستان د استخباراتو رسمي او دایمي اداره په ۱۹۰۹ م کال کې دپټو خدماتو د اداري Secrete Services Bureau په جوړیدو سره منځ ته راغله او د لومړۍ نړیوالي جګړې په دوران کې یې د بریتانوي امپراتورۍ په ساتلو کې مهم رول ولوباوو. د ۱۹۱٤ او ۱۹۱٦ کلونو په موده کې انګریزانو ته عمده خطر د دوی په اصطلاح د" تروریستانو" یا آزادي غوښتونکو او ملت پالو یا نشنلستو جنګیالیو څخه متوجه وو، چې د هند په نیمه وچه، افغانستان او نورو هیوادو کې یې فعالیت درلود.

## داستخباراتي ادارو مختلفې ځانګې او فعالیتونه

دانګریزانو د استخباراتو اداره مختلفې ځانګې لري . داخلي برخه یا کورني استخبارات یا Security Service چې د (Section 5 of the Directorate of Military) یا IM5 د نظامي امریت د پنځمې برخې په نامه یادیږي. خارجي برخه یا بین المللي استخبارات Secrete Intelligence Service یې د IM6 یا (Section 6 of the Directorate of Military) یا د نظامي امریت د شپږمې برخې په نامه یادیږي.

د انګریزانوپه استخباراتي فعالیتونو کې نظامي او بحري استخبارات، سیاسي استخبارات، دخاصو عملیاتو سرته رسول (لکه کودتاوي او سیاسي ترورونه او وژنې)، ساینسي استخبارات او صنعتي استخبارات شامل دي. دوی د خارجي هیوادونو د امکاناتو او مقاصدو، د اکمالاتي لارود استحکام، د ملي غورځنګونو دټکولو، د ګاونډیانو په وړاندې د سرحداتو دټینګولو، او د خارجي جاسوسي فعالیتونود خنثی کولو په هکله د دقیقو او په وخت معلوماتو دلاسته راوړلو کوښښ کوي.

## د هند په نیمه وچه او افغانستان کې د انګریزانوجاسوسي فعالیتونه

په دې سیمه کې د انګریزانو جاسوسي فعالیتونه د شرقي هند د کمپنۍ په راتګ سره پیل او د افغانانو او انګریزانو لومړۍ جګړې سره شدت پیدا کړ. هندوستان کې انګریزان د خپلې واکمنۍ د ساتلو د پاره ددوه ډوله ستونزو سره مخامخ وو. دوی هم د داخلي ناکرارۍ او هم د خارجي مداخلې او حملې څخه ډار او ویره درلوده. په داخلي ناکرارۍ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

کې د سیاسي او مذهبي غورځنګونو او د سیمې د مسلمانانو د یووالي ځخه ویره او په سرحدي سیمو کې د پښتنو قبايلي جنګياليو حملې شاملې وې. په خارجي برخه کې دوی دهندوستان په لوري هم د شاه زمان په شان هیوادپالو افغانی واکمنانو او هم د فرانسوي ناپلیون او تزاري روسي امپراتورۍ د احتمالي حملو ځخه ډار درلود. په خاصه توګه په بریتانوي هند باندې د روسانو د تیرې د تصور او یا رښتیني تیري د مخنیوي داندیښنې موضوع وه، چې د افغانانو او انګریزانو د لومړۍ جګړې ځخه وروسته، یې د یوسلودیرشو (۱۳۰) کلونو د پاره د هند په هکله د انګریزانو پرسیاسي او نظامي ستراتیژۍ تسلط درلود.

د دې دواړو اندیښنوسره د مقابلې د پاره انګریزانو د سرحد نه آخوا یا په افغانستان کې استخباراتو ته اړتیا درلوده، او په افغانستان کې د انګریزانو د سیاسي، پوځي او استخباراتي هلوځلو پراختیا هم له همدې ځایه پیل شوه. دوی د پالیسیو او ستراتیژیکو پلانونو د جوړولو د پاره د معلوماتو په اهمیت ښه پوهیدل. دوی ته د افغانستان د سیمې د جوړښت، دتګ راتګ د لارو، منابعو، داخلي سیاست، قومي ډلو ټپلو، دښمنیو او متنفذو شخصیتونو په هکله استخباراتي معلومات هم د سیاسي مناسباتو دټینګولو، او هم د احتمالي عملیاتو د ترسره کولو د پاره زمینه برابروله.

"لاردولسلي"(۱۰) چه په افغانستان کې د شاه زمان د واکمنی په وخت کې د هندوستان بریتانوي ګورنر جنرال وو، هغه لومړني کس وو چې د افغانستان د ختیځي او جنوب ختیځې سیمې په واقعي ارزښت پوهیده (دا سیمه وروسته د هند د شمال غربي سرحدي سیمې په نامه یاده شوه). د ده په فکر تر ځو چې یو مقتدره افغان پاچا د افغان او میشتو افغانانو په دې سیمه کې حاکمیت او نفوذ ولري، د هند نیول به افغانانو ته دیوی لوبې مثال ولري. نو ځکه لارد ولسلي په ۱۷۹۷ کال کې یوه داسې تګ لاره جوړه کړه چې په هر قیمت چې وي، د افغانانو لاس نه یواځې د هند او پنجاب نه لنډ کړي، بلکې د سند او بلوچستان د لویدیزو خاورو نه پورې غاړه ختیځې او جنوب ختیځې سیمې له خپل هیواده جلا کاندې(۱۱).

هدف ته درسیدو د پاره د انګریزانو پلان د ترلې سرحد (تدافعي)، وړاندې تګ (تعرضي) او په کوچنیو برخو د هیوادونو دتجزیې او ویشلو پړاوونه درلودل، تر ځو د محلي قوتونو په رامنځته کیدو سره مرکزي واحد او قوي حکومت له منځه یوسي. دوی د دغه پلان د پلي کولو دپاره دنظامي، تبلیغاتي، ورانکارۍ او نورو ډیرو لاروچارو ځخه استفاده وکړه .

(نوربیا)

منابع


۱. Khan, Anwar M. (2000). The Role of N.W.F.P. in the Freedom Struggle. (دآزادۍ په مبارزو کې دشمال مغربی سرحدي ایالت برخه) ، ۸ مخ

۲. Lowell, A. Lawrence. (1908). The Government of England. (دانګلستان حکومت)، لومړی ټوک، ۴۲۲ مخ.

۳. Roe, Andrew (2005). British Governance of the North-West Frontier (1919 to 11947): A Blueprint for Contemporary Afghanistan? (دانګریزانو لخوا د شمال مغربي سرحد اداره)، ۲۳-۲٤ مخونه

٤. عبدالقیوم خان (۲۰۰۸)، زر او زور د پښتون په پوله . یونیورسټي بک ایجنسي، خیبر بازار، پېښور، ۷۰ مخ

٥. Khan, Abdul Qaiyum (1945). Gold & Guns on the Pathan (دپښتون په پوله زر او زور) ، ۵۱ مخ

٦. Khan, Abdul Qaiyum (1945) ، ۵۲ مخ

۷. Spain, James W. (1963). The Pathan borderland. (دپښتنو سرحدي سیمه) ، ٤٥ مخ

۸. داحمد اکبر په وینا د پښتنو ټولنیز جوړښت دننګ او قلنګ په دوو جلا جلا اصطلاحاتو کې پیژندل شویدئ . ګواکې لرمومند د قلنګ او بر مومند د ننګ په ډله کې راځي .

۹. Twigge, Hampshire and Macklin (2008). British Intelligence: Secrets, Spies and Sources. The National Archives, Kew, UK.


---




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

۱۰ . Lord Richard Wellessly د۱۷۹۸م کال څخه تر ۱۸۰۵م کاله پورې دهندوستان بریتانوي گورنر جنرال وو. هغه دهند په نیمې وچې کې دانگریزانو دعدم مداخلې (ترلو سرحدونو یا دفاعي) پالیسي، په اصطلاح دملگرتوب او مرستې په پالیسي بدله کړه. دهغه اصلي مقصد په هندوستان کې دانگریزانو دنفوذ پراختیااو دشرقي هند دکمپنۍ دتجارتي اړیکو زیاتول وو. دهغه په نظر دفرانسویانو سره دنړیوالې جگړې او دناپلیون د مخکې تگ په صورت کې هندوستان ته ستر خطرمتوجه وو . دهغه دپالیسی په اساس دهندوستان محلي واکمنان په زور دانگریزانو تر حمایت لاندې راوستل شول . دایالتونو دکورنیو آزادیو په ضمانت سره دهغوی دخارجي چارو واک انگریزانو ته وسپارل شو او دهغوی په ایالتونو کې انگریزي عسکري قواوو د ځاې په ځاې کیدو امکانات برابر شول . دانگریزانو سره دمیسور څلورمه جگړه هم ځکه پیل شوه ، چې د میسورواکمن سلطان فتح علی خان (سلطان تیپو) دانگریزانو سره ملگرتوب څخه غاړه وغړوله .

۱۱. کهزاد، احمد علی . رجال و رویداد های تاریخي، دپیښور چاپ .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ